**د ملي عمل درېیم پروګرام کې د شمولیت په موخه د ټولنې بېلابېلو پرګنو وړاندېز شویو موضوع ګانو راټولولو په موخه د افغانستان پرانیستي دولتدارۍ مشارکت اعلامیه**

د افغانستان اسلامي جمهوري دولت د پرانیستې دولتدارۍ مشارکت د ملي عمل درېیم پروګرام د تدوین بهیر په نېږدې ورځو کې پیلېږي.

د پرانیستي دولتدارۍ مشارکت (OGP) د لارښود په بربنسټ، د دغه سازمان د غړیو هېوادونو د ملي عمل پروګرامونه د مدني ټولني بنسټونو په مشارکت تدوین او چمتو کېږي. د افغانستان اسلامي جمهوري دولت د پرانیستې دولتدارۍ مشارکت غړیتوب له ترلاسه کولو تر دې دمه خپل د ملي عمل پروګرامونه د یاد لارښود په رڼا کې تدوینوي.

د افغانستان ملي عمل لومړی پروګرام په بریا سره تطبیق شوی او د ملي عمل دویم پروګرام د مدني ټولني بنسټونو او هېوادوالو په پراخ مشارکت سره تدوین شوی او د تطبیق په وروستیو پړاوونو کې دی. د افغانستان اسلامي جمهوري دولت د ملي عمل دویم پروګرام کې ۱۸ بدلونراوونکې ژمنې شاملې دي چې په تطبیق سره به یې د عامه خدماتو په برخه کې روڼتیا او حساب‌ورکوونه زیاته او د ملي پالیسیو په تدوین کې د عامه مشارکت زمینه برابره شي. د بېلګې په ډول د « ذیفع مالکیت د ثبت او پلټنې مقرري» ژمنې څخه چې د حساب‌ورکوونې، ځواب‌ویني او روڼتیا لوړاوي په برخه کې تدوین او تصویب شوې، یادونه وکړو. په باوري توګه د هغې په سم تطبیق سره به له ډول ډول جرمونو ( مالیاتي فرار، د پیسو تطهیر، د ترهګرۍ تمویل او د نشه‌یي توکیو قاچاق) څخه مخنیوی وشي.

دا چې د ملي عمل دویم پروګرام د تطبیق وخت په تمامیدو دی او ډېری ژمنې یې بشپړې شوي، د افغانستان اسلامي جمهوري دولت په پام کې لري چې د پرانیستې دولتدارۍ مشارکت د ملي عمل درېیم پروګرام د تدوین چارې هم پیل کړي، نو له دې کبله له ټول وزارتونو، خپلواکو ادارو، د مدني ټولنې بنسټونو، رسنیو، پوهنتونونو او تحصیلي سکتور او هېوادوالو څخه په درښت هیله کېږي څو خپلې وړاندېز شوې موضوع‌ګانې چې په ( روڼتیا، حساب‌ورکوونې، د عامه پالیسیو په تدوین او تطبیق بهیر کې د هېوادوالو مشارکت د ښه والي او لوړاوي او له نوې ټیکنالوژۍ څخه استفادې پورې اړوندې وي) د ملي عمل درېیم پروګرام کې د شمولیت په موخه د ۱۴۰۰ کال د زمري تر 30 نېټې پورې د لاندې برېښنالیک له لارې له موږ سره شریکې کړي.

Faisal.stanekzai2@gmail.com او info@ogpa.gov.af

**د یادونې ده چې د پرانیستې دولتدارۍ سکرتریت د هېواد د ملي عمل پروګرامونو د آسانچاري رول لري او ستاسو وړاندېز شوې موضوع‌ګانې به له توحید وروسته اړوندو مراجعو په تېره د افغانستان پرانیستې دولتدارۍ مشارکت ټولګې عمومي فورم ته وړاندې شي.**

**د لازیاتو معلومات له‌پاره د** پرانیستې دولتدارۍ مشارکت ویب سایټ **ته مراجعه وکړئ:** **https://ogpa.gov.af**